دوېمه برخه

# جنګ کوي که زړه بدوي

## مشاجره، تنازعه او شخړه

## Conflict

علي ګوهر

متنازعه یا مشاجره لاتیني کلمه ده له کانفګري نه اخستل شوې چې مطلب ئې برید (حمله) یا ټکر (تصادم) دے چې زمونږ په ټولنه کښې له درې (ز) نه پیدا کیږي چې زر، زمین او زن کښې راځي خو تنازعه یا شخړه د انسان دننه وي کوم چې د شرم، غرور، عزت، پېغور، ویرې، ځان په بل اوچت ګڼل او په ټولو کښې د خپلې غلطۍ د نۀ منلو څخه راپېدا کېږي لکه:

1. تنازعه یا جګړه له اوله د غلطو کلمو او الفاظو د استعمال او کړو وړو څخه پېدا کېږي.
2. تنازعه یا شخړه د ځواکمنۍ د پېدا کولو او یا د وسائلو له تر لاسه کولو نه پېدا کېږي.
3. تنازعه د یو بل د سیالۍ نه پېدا کېږي چې یو لورے هڅه کوي چې بل تر لاس لاندې کړي او ځان پرې لوړ کړي چې حکم ئې ومني یا ئې بېخي له منځه یوسي، چې د مقابلې ئې څوک پاتې نۀ شي. د تنازعې بنسټ (بنیاد) شخړه یا تنازعه نۀ ده بلکې ځواکمني ده چې په هره لاره تر لاسه شي کۀ هغه مالي، سماجي، روحي، معاشي وي او نور.

### د شخړې تشخیص (پېژندنه):

1. د شخړې اصلي لامل په ګوته کول چې د شخړې ژورتیا او لامل څۀ دے.
2. دغه پېژندنه دربمګړے په اسانه کولے شي او د شخړې لورے ئې نۀ شي کولے.
3. د جرګې غړي یو د بل نه پوښتنه کوي او عدالت په شاهدانو ترسره کوي. عالمان د دین په رڼا کښې ګواهي اخلي او سوګند پورته کوي او په دې توګه ځان د شخړې یا تنازعې ژورتیا ته رسوي لکه څنګه چې ډاکټر د ناروغ تشخیص وکړي ځان د ناروغ په ناروغۍ پوهه کړي نو د ناروغ درملې اسانه شي، دغسې د شخړې یا تنازعې علاج هم له تشخیص نه وروستو په اسانه کېدے شي.

### د تنازعې د پرمختګ لاملونه:

د تنازعې یا شخړې د پرمختګ درې مهم اړخونه دي:

1. خبرې اترې: په دې کښې ډاډ، اعتماد او عزت ساتنه غټه برخه لري.
2. دریځ یا مقام: ډلې یو د بل نه بیلې شي او خبرې اترې د دربمګړي په واسطه کېږي.
3. د دواړو لورو بیلوالے: یو لورے وائي مونږ په حقه یو او هغوي ناحقه او غلط دي.

### د تنازعې یا شخړې واړۀ اړخونه:

أ- ګیلې مانې: په دې کښې تاوئیلي ما وئیلي اوربدل کیږي.

ب- الزام او تور لګول: یو په بل د خپل ښۀ والي په خاطر تورونه لګوي او بدناموي ئې.

ج- دریځ او مقام: زۀ صحیح یم او تۀ غلط ئې.

د- مونږه او هغوي: په دې بیلوالي کښې د مونږ او هغوي تر منځ ښکاره کرښه راښکل کیږي.

ه- د دربمګړي وړل راوړل: چُغلي، دروغ، غیبت یو بل ته خبره رسول پېل شي.

و- پروپاګندونه: لکه هغوي ځان تیاروي، خلق راټولوي وغیره

ز- د بدو، ستغو سپورو او حتیٰ کنځلو، سوال او ځواب یو بل ته.

ح- پوره دودیزې او سماجي غوښتنې.

ط- کشر د مشر خبره نۀ منل: کشران په خپل سر شي او جذباتي فېصلې کوي.

ي- د مشرانو خبرو او جرګې ته غوږ نۀ نیول او هر څۀ د ځواکمنۍ او طاقت په واسطه جذباتي فېصلې کول.

ك- شخړه اوږدول: له یوې نه بلې ته او د بلې نه بلې ته خبره اوږدول.

ل- د لمسونکي مشر تر لاس لاندې راټولېدل او د هغۀ لمسون منل.

م- ځان غوره ګڼل: زۀ ښوک یم اوتۀ ښوک ئې، تا ولې ماته داسې وکتل،زۀ د باتور قوم یم او تۀ نا معلومه سړے ئې.

ن- ګروپ یا ډله کښې دننه یو د بل خبره نۀ منل، ځان ځاني او دننه ورانے.

س- ټولنیز، سماجي: عزیزان به څۀ وائي، قوم به څۀ وائي او اکثره زړونه په بل څۀ ډک وي او بهانه بله شي.

## د شخړې د پائے مراحل:

1. یو لورے بل لورے ښاري: په دې مرحله کښې یو لورے په بل لوري مکمله قبضه وکړي او د هغه د مقابلې او ټینګار ټول قوتونه له منځه یوسي، داسې لورے د دربمګړي خبرې ته غوږ نۀ ږدي، قانون هم تر پښو لاندې کړي او په خپل طاقت د بل حقونه، وسائل یا توکو باندې قبضه وکړي.

2. د وسائلو زیاتوالے د طاقت او استعمالولو کښې کمے: په داسې حالت کښې وسائل زیاتېږي، مادي وسائل لکه پیسې، زمکه او نور وي یا د جرګې غړي، سپین ږیري مشران، عدالت کښې وکیلان د حکومت د مداخلت په منځ کښې راشي داسې حالت کښې دواړه ډلې او پارټۍ یا خو لړ او یا خو ورته هیڅ نقصان ونۀ رسیږي.

3. تاوان ورکول: چې یو لورے خپله پړه ومني د نقصانونو تاوان ومني او د هغوي د پوره کوله کوشش وکړي.

4. سوله: سوله په داسې حالت کښې وکړي چې دواړه لوري په څۀ نا څۀ لګښت او تاوان ومني او د امن لپاره یو څۀ نا څۀ قرباني وکړي.

5. بغېر له څۀ تاوان ښخه سوله: دواړه لوري دې ته تیار شي چې څۀ وشول ښۀ وشول تېر په هېر، هغه په ځائے پرېږدي او سوله بې له څۀ تاوان ښخه وکړي.

## ښه او بده شخړه:

شخړه ښه او بده دواړه کېدې شي او د ژوند په هر ډګر کښې د انسان سره ترلې ده. انسان په هر

وخت کښې یو د بل سره په څۀ خبره متفق وي او په څۀ مخالف او فکر کوي شخړه یا تنازعه انسان ته موقع ورکوي چې خپلې ستونزې او مسئلې د خبرو اترو په وسیله حل کړي، ځکه چې کۀ خبره ورانه شي نو په خبرو به جوړېږي. شر، تندوالے او شخړه د مسائلو د حل لاره نۀ ده، کۀ هر څومره جنګونه وشي، کۀ د کورنیو، قومونو او هېوادونو ترمنځ وي او کۀ د دوه ډلو تر منځ وي بیا هم خبرو ته کښېني او په خبرو اترو، د دین، رواج یا حکم او نړېوال قانون په چوکاټ کښې به د هغې حل راوباسي. تنده او سخته شخړه کنټرول غواړي چې زیاته نۀ شي، ګڼې او ډېرې شخړې رڼائي غواړي چې په هر یو اړخ ئې رڼا واچول شي. ښه شخړه په کار راوستل غواړي چې فائده ترې واخستل شي.

## ښه تنازعه یا شخړه:

په کار دي چې شخړې ته داسې ښه ورکړل شي چې ښه شي او ګټورې تمامې شي، دا په هغه حالت کښې کېږي چې دواړه ډلې د مسئلې په حل ډاډمنې شي، دواړه وائي چې زمونږ څۀ تاوان ونۀ شي او شخړه بې تاوانه په خبر سره حل شي، د شخړې دا ډول بندبدل (هواربدل) په ځلورو ډولونو کېږي:

1. د شخړې د خوربدو او زیاتېدو په ځائے په یوه مسئله راوګرځي او هغه دا چې شخړه په څۀ ده؟وجه ئې څۀ ده؟ او حل ئې څۀ دے؟
2. د نورو شخړو له داخلولو نه په کښې ډډه وشي، زړې خبرې، تاوتریخوالے د تا وئیلې او ما وئیلې لارې په کښې پوره نۀ شي.
3. د جګړه مارو ډلو په منځ کښې دې د مقابلې او سیالۍ احساس ختم شي او د مقابلې په ځائے دې مرستې او یووالي ته وهڅول شي.
4. د دواړو ډلو ترمنځ داسې مشران او منځګړي وټاکل شي چې دواړو خواو ته قبول او منظور وي او پوره ډاډ پرې ولري څو دواړو خواو ته د منلو وړ یو جامع حل راوباسي.

## د بدې او خرابې شخړې هم څلور پړاوه دي:

1. کله چې دواړه خواوې د شخړو شمېر زیات کړي یعني په یوه شخړه کښې بله شخړه راوسپړي یو د بل په مقابل کښې منفي دریځ غوره کړي ځان په حقه او بله خوا ناحقه بولي شخړه خرابېږي.
2. بهانې، تهمتونه یا تورونه: دوي مخکښې هم داسې کړي وو، زۀ دې پرېکړې (فېصلې) ته تیار نۀ یم، زۀ نورو سره مشوره کوم، زۀ پوره واک نۀ لرم، ما ته وخت راکړئ، داسې ماته منظوره نۀ ده، داسې نۀ وه په کار او داسې نور.
3. په خپل مټ، زور او ځواک نازېږي، غواړي چې خپل مطلب په زور زیاتي، تهدید، د طاقت استعمال او ویرولو سره ترلاسه کړي.
4. د ځان په ګټه حل باندې ټینګار کوي او په یو شر خوښوونکي مشر راټولېږي او تر هغه تر شا ودرېږي خپله خبره پرې منل غواړي او د بل خبرې ته غوږ نۀ ږدي په خپله خبره ټینګار کوي او هم هغه یوه غوښتنه کوي او ترې نۀ اوړي.

## د شخړې د حل لارې:

واک اختیار، هیله او امېد: دا دواړه د انسان د عزت مهمې ستنې دي. د عزت مطلب بې ویرې د یو بل سره په امن اوسېدل دي.

یو تر بله بحث او خبرو اترو په واسطه جذباتو او علم نه دواړه لوري کار اخستلے شي، دا کار په ښه

توګه یو تجربه کاره دربمګړے په ټولنه کښې کولے شي.

له ښۀ بحث او مباحثې نه مطلب د ویونکي او اوریدونکي تر منځ ډاډ او اعتماد پیدا کول دي، ځکه چې اوریدونکے اول واوري ځان پرې پوهه کړي او بیا د هغې پوهې په رڼا کښې ځواب ورکړي، پوهه او اسانه وینا د مسئلې په حل کښې مهم کردار لري.

سماجي، معاشي، رواجي او کلتوري لاملونه (دریځ) په شخړه کښې ډیر ضروري دي او شخړه اوږدوي.

د هر چا اړتیاوې بیلې بیلې دي کله چې دا معلومات راټول شي چې دواړه خواوې څۀ غواړي یو د بل خبرو اوریدو ته چمتو شي دریځ روښانه شي نو بیا د مسئلې حل اسانه شي.

أ- هغه مسئلې زیاتې په ګوته شي چې مهمې دي او دواړه خواوې ئې حل غواړي. په دواړو خواو کښې داسې تېربدنې وي چې څۀ سره پربږدي او څۀ واخلي، دواړو خواو کښې د اهمو اصولو ټاکل ضروري دي لکه:

1. په دواړو خواو کښې یو په بل اعتماد کول. خبرې تر هغې پټې ساتل تر څو چې پوره پربکړه نۀ وي شوې.
2. د مسئلو رڼائي: دواړو خواو نه ازادې پوښتنې کول، د لنډ او پراخه مطلب راویستل، موضوع ته پوره پاملرنه او د غصې ختمول.
3. د دواړو ډلو ترمنځ مسائلو باندې ځان پوهول او د ګروپ د پاملرنې وړ مسئلو او اړتیاؤ ته پام اړول، له پوهو خلقو نه پوښتنې کول او نظر اخستل، له دواړو خواو نه د نرم چلند او یو بل ته د تېربدنې وعده اخستل.
4. د ناپیلو منځګړو منځ کښې د زړۀ پورې اړیکو ټینګول، برسېره په دې د نورو چارو لټول، واړۀ ګروپونه جوړول چې بېلو بېلو ډلو سره وګوري، د دواړو تاو تریخوالے کم کړي او بیلو بیلو ځایونو کښې دې د منځګړو په واسطه ځانګړې او خصوصي خبرې وکړي. د منځګړو په وړاندې مخامخ خبرې وکړي او خپله یو بل ته یادونه وکړي.
5. دواړه خواوې سولې ته چمتو کړي او د حکومتي واکمنو په همکارئ په ټولنه کښې سوله او روغتیا رامنځ ته کړي.
6. کۀ لیکل ضروري وي نو د دواړو خواو د مشرانو په وړاندې دې پربکړې ولیکل شي او د جرګې مشران دې ئې لاسلیک کړي چې لیکلے سند پاتې شي، ځکه چې بې لیکنې خبرې یا هیریږي او یا د پربکړې خلق نۀ وي یا مړۀ شوي وي او شخړې څۀ وخت وروستو بیا تازه شي.

## د مسائلو یا شخړو د حل ځایونه:

هسې خو مسائل یا شخړې زمونږ په ټولنه کښې په دربو لارو حل کیږي:

1. ملکي عدالت دے ځکه چې جرم د ملک د قانون ماتول ګڼل دي.
2. د دین لار ده چې د قرآن او احادیثو په واسطه ښکاره شوې ده.
3. زمونږ رسم او رواج چې په کښې جرګه او د سپین ږیرو فیصلې او پربکړې شاملې دي.

د شخړو حل په عدالت او یا د عدالت نه وتلې په لاندې ډولونو کیږي:

i. عدالتي نظام: چې د عدالتي او انتظامي ځواکمنو په واسطه د شخړې دواړه لوري

راغوښتل کېږي او د هغو په منځ کښې پرېکړه کوي او دا پرېکړه پرې په زور ومني خو دښمني او تاو تريخوالے ئې ختم نۀ شي.

ii. عدالت دربمګړے ټاکي چې د دواړو خواو ترمنځ پرېکړه وکړي لکه چې دربمګړي ته د پرېکړې اختيار ورکړے شوے وي دغسې دواړه خواوې هم دا حق لري چې پرېکړه د کوم يو خوښه نۀ وي يا په چا تېرے شوې وي بيا عدالت ته مخه وکړي چې په پرېکړه غور وشي دا رواج په قبائلي سيمو کښې ډېر دے.

iii. بيا پخلا کول Reconciliation: د دواړو خواو ترمنځ پخلاينه د دربمګړي په مرسته داسې کېږي چې دربمګړے د خدائے (ج) د رضا لپاره د دواړو ډلو ترمنځ تاو تريخوالے کم کړي، د دوي ترمنځ اړيکې، خبرې اترې او د يووالي هلې ځلې پرله پسې وکړي، مسائل او شخړې په ګوته او روښانه کړي او د هغو د حل هڅه وکړي، سوله او روغتيا رامنځته کړي او دواړه خواوې يو بل ته بخښنه وکړي.

iv. خبر غوښتونکے منځګړے(Facilitator) يو سړے چې پرېکړه نۀ کوي خو د دواړو ډلو ترمنځ د خبرو اترو لپاره يوه لائحه جوړه کړي لکه: يو بل باندې به تېرے، غصه او کنځل نۀ کوو، يو وخت کښې يوه مسئله حل کوو، يو بل ته غوږ ږدو او کۀ څوک له دغسې ټاکلو لورو نه تېرے وکړي نو هغه به ملامته وي.

v. منځګړے (Mediator): يو بې پلوه دربمګړے وي د دۀ کار هم د خبر غوښتونکي په شان دے. دواړه خواوې په خپله پرېکړې کوي دے ورسره د شخړو حل کولو کښې مرسته کوي خو د پرېکړې واک نۀ لري يوازې خبر غوښتنه په کښې کوي، بهرنۍ نړۍ کښې دا کار ډېر بريالے دے.

vi. ميډراب (Med Arb): دا زمونږ د جرګې سره سمون خوري، هغه ته وائي چې د جرګې غړي اول دواړه ډلې بيلې بيلې ګوري، جذبات ئې کم کړي، مسئلې او غوښتنې کمې کړي بيا واک تر لاسه کړي او د دوي ترمنځ پرېکړه وکړي.

vii. واکمن منځګړے (Abritrator) د منځګړي اختيار من وي چې د خپلې تجربې او پوهې په رڼا کښې د دواړو ترمنځ پرېکړه وکړي او دواړه خواوې ئې ومني.

viii. عالمان (Med Trail) دا برخه د يو کلي يو عالم يا ملا ترسره کوي چې د دواړو خواو وکيل دۀ ته د خپلې ډلې مسائل بيانوي او دے پرېکړه کوي.

ix. محتسب (Ombudsman): دا هم د حکومت له خوا مخصوص سړے وي د دواړو خواو د اورېدو نه وروستو محکمې ته پرېکړه ورکړي يا ورته تجويزونه وړاندې کړي.

x. ډيپلوماسي (Diplomacy): دې کښې دواړه خواوې يو بل ته خپل د نظر ټکي وړاندې کوي چې په پرېکړه کښې اسانتياوې پيدا شي.

xi. ټولنيز انصاف اعاده کول (Restorative Justice): په دې کښې د مظلوم نقصان او اړتياوو باندې ټينګار وي، ظالم د نقصان او مظلوم د خپلو ضرورتونو ذمه په خپله غاړه اخلي او ټول سره په خپله په ګډه د دغو بې انصافيو د نقصان جُبېره کوي په دې کښې ټولنه، ظالم، مظلوم او د دوي خپلوان ټول شامل دي او فېصله د دوي په وړاندې کېږي.

نور بيا